## د افغانستان اسلامي امارت

## د پوهنې وزارت

### د هلمند ولایت د پوهنې ریاست

### د کیفیت د تضمین آمریت




# د هلمند ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ کال له حمل څخه د حوت ترپای پورې.

## د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې/ کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........................................ 3

د هلمند ولایت په هکله عمومي معلومات ........................................................ 4

د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........................................ 11

لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو ........................................................................ 11

۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ........................................................................ 11

۲. اسلامي زده کړې ........................................................................ 12

۳. د کیفیت تضمین ........................................................................ 13

۴. سرچینې او اداره ........................................................................ 15

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........................................ 16

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........................................................................ 18

۱. ښوونه او روزنه ........................................................................ 18

۲. اسلامي زده کړې ........................................................................ 20

3. سرچینې او اداره ........................................................................ 21

۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........................................ 23

3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ........................................ 23

۱. ښوونه او روزنه ........................................................................ 23

۲. اسلامي زده کړې ........................................................................ 25

3. سرچینې او اداره ........................................................................ 26

۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........................................ 27

د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........................................................ 30

تحلیل او پایلې ........................................................................ 31

د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........................................................ 56

مالي رپوټ تحلیل ........................................................................ 57

ضمایم ........................................................................ 59

# د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې/ کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمېره/واتساپ | |
|---|---|---|---|---|
| مولوی عبدالله (محسن) | د کیفیت تضمین آمر | بریښنالیک نلري | 0731309193 | |
| مولوی عبدالله (ذاکر) | ښوونې او روزنې آمر | بریښنالیک نلري | 0703002339 | |
| مولوی عبدالرازق (حکیمی) | د منابع او اداري آمر | بریښنالیک نلري | 0744435342 | |
| قاري مولوی عبدالسلام (مسلم) | د اسلامي زده کړو آمر | بریښنالیک نلري | 0704767534 | |

د پوهنې د رییس تاییدي:

| نوم او تخلص | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمېره/واتساپ | ...سلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوی محمد عوض (انصاری) | د هلمند ولایت پوهنې رئیس | بریښنالیک نلري | 0704729685 | |

## د هلمند ولايت په هکله عمومي معلومات




د هلمند ولايت د افغانستان د ولايتونو څخه پراخه ولايت دی، چې ( 61829 ) کېلومتره مربع مساحت لري، چې د ټول هيواد لسمه برخه خاوره تشکيلوي، چې شمال ته يې غور او دايکندي ولايتونه او ختيځ ته يې ارزگان او کندهار ولايتونه، لويديځ ته يې فراه او نيمروز ولايتونه او جنوب طرف ته يې د پاکستان هيواد گډه پوله لري.

د هلمند ولايت گرځنده او تاريخي ساحې لري، چې مرکز يې د لښکرگاه ښار دی.

د هلمند ولايت 19 اداري واحدونه لري ( مرکز لشکرگاه، گرشک، گرمسير، ناوه ، نادعلی، خانشين، مارجه، سنگين، کجکی، نوزاد، بغنی، باغران، موسی قلعه، واشير، نهرسراج، باباجی، بهرامچه، ناوميش او ديشو ) دي.

80 سلنه نفوس يې په زراعت باندې بوخت دي چې غنم، جواری، لوبيا، کچالو، پياز، رومي بانجان،مميلي، گلپي بادرنگ،هندوانه، ختکی او داسې نور دي.

د مرکزي احصائې د ارقامو له رويه د نوموړي ولايت ټول نفوس1446230 تنه تخمين شويدی.

ښووني او روزنې خدمتونو ته لاسرسي پرمختگ کړی، اما دا خدمتونه په ټولو ولسواليو کې يو شان ندي.

په نوموړي ولايت کې د سواد کچه ۳۵ سلنه ده. په دغه ولايت کې ۲۴ سلنه په ښاري ساحو کې او ۷۶ سلنه په اطرافو کې ژوند کوي.

په ياد ولايت کې يو دولتي پوهنتون شتون لري، چې د زراعت، انجنيری، تعليم و تربيه، وترنری او اقتصاد پوهنځي لري.

او درې بابه خصوصي پوهنتونونه هم فعاليت لري لکه بُست،وادي هلمند او اراکوزيا چې د حقوق، زراعت، طب انجنيری، تعليم وتربيه او کمپيوټر ساينس فعاله پوهنځي لري.

په هلمند ولايت کې د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو په پروگرامونو کې ټولټال ۴۲۲۰ بابه تعليمي مرکزونه فعاليت لري.

د عمومي زده کړو پروگرام اړوند ټولټال 375 بابه ښوونځي لري، چې لدې جملې څخه 97 بابه ليسې 84 بابه منځني او194 لومړني ښوونځي دي.

په پورته ټولو ښوونځيو کې د عمومي زده کړو په برخه کې ۲۴۲۲۶۴ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې۱۷۵۱۰۳ تنه ذکور او ۶۷۱۶۱ تنه اناث دي.

په ياد پروگرام کې2440 تنو ښوونکو لخوا تدريس ورکول کېږي، چې لدې جملې څخه 2015 تنه نارينه او 425 تنه ښځينه ښوونکي دي.

د پورته ټولټال ښوونکو څخه 5 تن نارينه ماستر، 1113 تنه نارينه ليسانس، 661 تنه نارينه څوارلسم پاس 188 تنه ښځينه څوارلسم پاس، 421 تنه نارينه دولسم پاس، 48 تنه ښځينه دولسم پاس او 4 تنه نارينه د دولسم ټولگي نه کښته ښوونکي په تدريس بوخت دي.

په هلمند ولايت کې ټولټال 46 خصوصي ښوونځي شتون لري، چې لدې جملې څخه 28 بابه لومړني، 8 بابه يې منځني، 10 بابه يې ليسه ښوونځي دي.

خوشبختانه ۱۰ بابه خصوصي مدارس هم لرو، چې فعلاً برحال فعاليت لري.

په پورته خصوصي ښوونځيو کې ټولټال ۱۹۴۸۰ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې څخه ۱۶۰۳۴ تنه نارينه او ۳۴۴۶ تنه ښځينه زده کوونکي دي.

پورته ټولو زده کوونکو ته د680 تنو ښوونکو لخوا تدريس کېږي، چې لدې جملې څخه 523 تنه نارينه او 157 تنه ښځينه ښوونکي دي.

ټولټال د اسلامي زده کړو د مرکزونو شمېر ۱۹۹۵ بابه کېږي، چې لدې جملې څخه ۱۹۰۵ بابه مدرسې، 1 باب دارالعلوم او 89 بابه دارالحفاظونه دي.

په پورته ديني مرکزونو کې ټولټال 144179 تنه طالب العلمان په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې څخه 133408 تنه نارينه او 10771 تنه ښځينه طالب العلمان دي.

همدارنګه پورته طالب العلمانو ته د 6905 تنو مدرسينو لخوا تدريس کېږي، چې لدې جملې څخه 6859 تنه نارينه او 46 تنه ښځينه مدرسين دي.

د هلمند ولايت د ښوونکو د روزنې کې څلور حمايوي مرکزونه موجود دي چې جمله 388 نارينه او 74 ښځينه محصلين په 23 ذکور شعبو کې د 24 نارينه ښوونکو لخوا تدريس ورکول کيږي او همدارنګه ۴ علمي غړي لري.

هلمند ولايت ټولټال ۱۰۱ بابه د سواد زده کړې فعال کورسونه لري، چې لدې جملې څخه ۸٦ تنه نارينه او ۱۵ تنه ښځينه دي چې په دغه کورسونو کې ۲۷۵۰ تنه زده کوونکي زده کړې کوي، چې لدې جملې څخه ۲۱۵۰ تنه نارينه او ٦۰۰ تنه ښځينه زده کوونکي دي او پورته زده کوونکو ته د ٦۹ تنو ښوونکو له طرفه تدريس کيږي، چې لدې جملې څخه ۵۹ تنه نارينه او 10 تنه ښځينه ښوونکي دي.

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

د هلمند ولایت د ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو (کېفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او روڼ او ځواب ویونکی مدیریت) کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینی موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته بڼه والې ور وبخښي.

د هلمند ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیړد په دوام د عملیاتي پلان د ۱۴۰۳ کال د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور د دري عرصو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی دی.

۱ ـ د کړنو لنډیز برخه

۲ـ د دریو عرصو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحیل او نتیجه ګیری برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاڼو برخه

## لومړی برخه

## 1. کېفیت او تړاو

### 1. ښوونه او روزنه

- په مرکز لښکرګاه او (ګرشک، ناوه، ګرمسیر، نادعلي، کجکي، سنګین، موسی‌قلعه، دیشو او باغران) ولسوالیو کې د ۷۶ بابه سواد زده کړې کورسونو څخه د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ، د ښوونیزو موادو د پراختیا په موخه څارنه ترسره شوې ده.
- د ساینس مدیریت مسلکي غړو له‌خوا د لښکرګاه ښار، ګرشک او موسی‌قلعه ولسوالیو د ٦ بابه ښوونځیو لابراتوارونو د اړتیاوو د تشخیص په موخه سروې ترسره شوې ده.
- د انکشاف مسلکي علمي غړو له‌خوا د لښکرګاه، ګرمسیر او مارجې ولسوالیو ۱۵۸ تنو ګډونوالو ته د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې یو ورځنی سیمینار ورکړل شو.
- د ساینس مسلکي غړو له‌خوا د لښکرګاه ښار او ګرشک ولسوالۍ د ساینس او ریاضیاتو ٦۰ تنو ښوونکو، او د انکشاف مسلکي مدیریت له‌خوا د ریاضي او کیمیا ۲۸ تنو غړو ته د ساینس او ریاضي په برخه کې یو ورځنی سیمینار ترسره شوی دی.

## 2. اسلامي زده کړې

- د مرکز لښکرګاه په شمول د ټولو ولسوالیو ۳۸ تنه د انکشاف مسلکي مدرسینو تـه د مدرسـو او دارالحفـاظونو اسـتادانو لپـاره د نویـو درسي کتابونو د معرفي کولو په موخه ورکشاپ ترسره شوی دی.
- د علمي او تدریسي غړو لخوا د مرکز لښکرګاه، ناومیش، ناوې، مارجې، بهرامچه، باغران، خانشین، سنګین، باباجي، موسی قلعه، بغنی او دیشو ولسوالیو له ۱۹۲٦ بابه مدرسو او ۸۰ بابه دارالحفاظونو څخه څارنه ترسره شوې، چې د یادې څارنې په پایله کې د مدرسو او دارالحفاظونو ټولټال ۳۹۹ اړتیاوې تثبیت شوې دي.

## 3. کېفیت تضمین

- د نتایجو مدیریت لخوا د دولتي او خصوصي ښوونځیو فارغ زده کوونکو لپاره ۵۷۵۵ ګروپي شهادتنامې ترتیب،تائید او ویشل شوي دي.
- د نتایجو مدیریت لخوا د ۱۲ ټولګیو د فارغ زده کوونکو لپاره ۳۸۹۰ سپینې شهادتنامې ویشل شوي دي.
- په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې د انکشاف مسلکي غړو لخوا د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي د پوهې د پرمختګ ارزونه په بریالي ډول ترسره شوې ده.

## 4. سرچينې او اداره

- د املاکو مدیریت لخوا ۱٦ بابه ښوونځیو د سند ملکیت او همدارنګه د 22 بابه خصوصي ښوونځیو سجلونه ثبت شوي دي.
- په مرکز لښکرګاه، سنګین، موسی قلعه، نادعلي، نوزاد، کجکي او نهر سراج ولسوالیو کې د پوهنې اداري له خوا ۱۵ قضیې وڅېړل شوې، او همدارنګه په نهر سراج، مارجه، کجکي، نوزاد، نادعلي، ناوه، سنګین او موسی قلعه ولسوالیو کې ټولټال ۴۵ د ملکیت غصب قضیې ثبت شوې دي.

### ۵. پوهنې رياست اړوند فعاليتونه

- د نشراتو مديريت لخوا ۳۲۵ د عرفان مجلې، ۲۸۰ د بخوان او بينديش مجلې او ۱۰۱۰ اوونيزې مجلې، ۳۱ بروشرونه د ښار او ولسواليو د پوهنې آمريتونو ته ورکړل شويدي.
- د پلټنې مديريت له لوري په باغران او بغني ولسوالی کې ٦ تنه کارکوونکو ته د پلټنې په برخه کې روزنه ورکړل شوه.

## 2. انډوليز لاسرسی

### 1. ښوونه او روزنه

- په پنځو ولسواليو (نهرسراج، باغران، نوزاد، ګرشک او لشکرګاه) کې د ښوونکو د مسلکي پراختيا په موخه د تطبيق شويو پروګرامونو د څرنګوالي څخه څارنه ترسره شوې ده.
- په مرکز لښکرګاه ښار او ټولو ولسواليو کې ټولټال ۴۲ بابه غيرفعال ښوونځي د اړوندو ادارو د هڅو او همکارۍ په نتيجه کې بيا فعال شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمريت اړوند په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالۍ کې ټولټال ۲۵۵۱۳ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي چې د يادو ارقامو له جملې څخه ۱۸۲۷۸ تنه ذکور او ۷۲۳۵ تنه ښځينه زده کوونکي دي.
- په مرکز لښکرګاه او (نهر سراج، سنګين، موسی قلعه او ناوميش) ولسواليو کې د ښوونيزو چارو د منظم تطبيق او ستونزو د حل په موخه ۱۷ څارندوی، ترافيک او اطفائيه ټيمونه جوړ شوي دي.
- د سواد زده کړې په کورسونو کې ټولټال ۷۱۸۰ تنه نالوستي زده کوونکي جذب شوي دي.
- دسواد زده کړې په کورسونو کې ۹۲۳ تنه زده کوونکي دملا امامانو له طرفه او همدارنګه ۴۷ تنه دکوچيانو دپروګرام له لارې جذب شوي دي.

### 2. تعليمات اسلامي

- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري په (ګرمسير، سنګين، باباجی، کجکی، نهرسراج، موسی قلعه، مارجه او باغران) ولسواليو کې ټولټال ۱۸۰۰ مدرسې تأسيس شوي دي. همدارنګه، په موسی قلعه ولسوالۍ کې يو باب مدرسه، په ديشو ولسوالۍ کې يو باب د اسلاميه حنيفيه مدرسه او په مارجې ولسوالۍ کې درې بابه مدرسې لکه (الجامعه ام القرای شمس المدارس، اصحاف سفه او مدرسه اسلاميه) نومونه تغير شوي دي.
- د انکشاف مسلکي غړو له لوري په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسواليو کې (٦٥٧) تنه مدرسينو ته د ظرفيت لوړولو په موخه ورکشاپونه ورکړل شوي دي.

### ۳. سرچينې او اداره

- په لشکرګاه، ناوه، مارجه او ګرشک ولسواليو کې اووه نيم جريبه ځمکه د معارف پاله خلکو لخوا ښوونځيو ته وقف شوې ده.
- د املاکو مديريت لخوا ۱۹ دوسيې محکمې ته د غصب د مخنيوي کميسيون او قضايي امارتي ارګانو ته وړاندې شوي دي.

- د ساتنې او خونديتوب مديريت لخوا د ماينونو او ناوچاوديدونكو موادو د خطرونو په اړه ۲۶۳۸۲ تنو ته د چارټونو، شكلونو او پوسټرونو له لارې پوهاوی وركړل شو.
- د يونيسيف همكارو مؤسساتو له لوري په گرمسير، كجكی، سنگين، نهرسراج، باغران، بهرامچه او موسی قلعه ولسواليو كې د ۲۰ بابه ښوونځيو ساختماني پروژو چارې ترسره شوې دي.

## 3. آغېزمن، روڼ او ځواب ويونكې مديريت

### 1. ښوونه او روزنه

- د روغتيا مديريت لخوا په ښار او ولسواليو كې په ۸۹۰ ښوونځيو كې ۳۸۰۴۱۸ تنه زده كوونكو ته په البندازول گولی توزيع شوې دي.
- په مركز لښكرگاه او (نهر سراج، ناوه، نادعلي، اوناوميش) ولسواليو كې د څارندوی ټيمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې ۵ د مبارزې تبليغات ترسره شوي دي.
- په مركز لښكرگاه كې د وړتياوو د معلومولو او ملي نړيوالو سياليو ته د معرفي كولو په موخه ۲ ورزشي سيالی په لاره اچول شوي دي.

### 2. اسلامی زده كړې

- د اسلامی زده كړو آمريت لخوا په تعداد (۷۲۵) عاليه او (۸۵۴) خامسه سندونه ثبت او ارزيابي شويدي.
- د اسلامي زده كړو آمريت لخوا په لشكرگاه ښار كی د قرانكريم، حفظ او حسن قرائت دوه سيالی چې ۱۰۷ حافظان او ٦۰ تنه د حسن قرائت په سيالی كې گډون كړی وه.

### 3. سرچينې او اداره

- د بشري سرچينو مديريت لخوا ٦۹۹۹ خالی بستونه پيژندل شوي چې ۱۳۰۲ بستونه په مركز او پاتې ۵٦۹۷ بستونه په ولسواليو كې دي.
- د بشري سرچينو مديريت له لوري د پوهنې رياست ۸۹ تنه كاركوونكو ته د هويت كارتونه توزيع شوي دي.
- د بشري سرچينو د مديريت لخوا په لشكرگاه ښار او نادعلی، مارجه، گرمسير او موسی قلعه ولسواليو كې ۲۷ تنه كاركوونكي تقاعد ته سوق شوي دي.

### ۴. پوهنې رياست اړوند فعاليتونه

- د ولايتي چارو د سمون رئيس په مشری يو پلاوي هلمند ولايت ته راغلی و او د ۵ كلن پلان مسودې په اړه د نظرونو له توحيد څخه وروسته پوهنې وزارت ته واستول شو.
- د هلمند پوهنې رياست د پلټنې مديريت لخوا په سنگين، نوزاد او كجكي ولسواليو كې د ۳ ځانگړيو د ښوونځيو د غضب شويو ځمكو قضيو په اړه لازم اجراآت ترسره شويدي.
- د پلان مديريت لخوا ۲۳ تعميراتي پروژو كانسپټ نوټونو تحليل،انسجام او توحيد ترسره شويدی.
- په مركز او ولسواليو كې ٦۵۸ تنه كارمندانو ته د اسلامي شريعت د احكامو سره سم توصيه شوې، د هغوی د صورت او سيرت اصلاح او د اسلامي امارت د پاليسي پر بنسټ د اولوالامر اطاعت كولو ته رابلل شوي دي.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

### د کیفیت او تړاو برخه

- د ښوونکو لپاره د ریاضی، ساینس د کتابونو کمبود.
- د طالب العلمانو لپاره د اعاشه او اباته نشتون.
- د سواد زده کړې برنامې لپاره د تصدیق نامو د توزیع نشتون.
- د نوي مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره د زده کړیز پروګرامونو لپاره د بودیجې نشتون.

### د انډولیز لاسرسی برخه

- د جدیدالتاسیس ښوونځیو د منظوري لپاره د خالی بستونو کمبود.
- د ارتقایی ښوونځیو د منظوري لپاره د بستونو کمبود.
- د مدارسو د تاسیس لپاره د خالی بستونو کمبود.

### د اغیزمن ، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت برخه

- د حق الزحمه ای قراردادي ښوونکو لپاره د تخصیص ورکولو نه شتون.
- په ښوونځیو کې د لابراتواري موادو او وسایلو نشتون.
- د ښوونکو د روزنې د محصلانو لپاره د اعاشه او اباته نشتون.

## حل لارې او وراندیزونه :

### کیفیت او تړاو برخه

- د ساینسی کتابونو رالیږل.
- د طالب العلمانو د اعاشه او اباته لپاره په کافي اندازه د بودیجې د تخصیص رالیږل.
- د سواد زده کړې برنامې د تصدیق نامو د چاپ لپاره د بودیجې د تخصیص رالیږل.
- د نوي مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره زده کړیز ورکشاپونه جوړول او بودیجه ورکول.

### د انډولیز لاسرسی برخه

- د اړتیا وړ سیمو کې د ښوونځیو د جوړول لپاره د خالي بستونو رالیږل.
- د ارتقایي ښوونځیو لپاره د خالي بستونو رالیږل.
- د اړتیا وړ سیمو کې د مدارسو د جوړولو لپاره د خالي بستونو رالیږل.
- د ملاامامانو د کورسونو لپاره د بودیجې رالیږل.

### د اغیزمن ، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت برخه

- د حق الزحمه اي قراردادي ښوونکو د ګمارنې لپاره په کافي اندازه د بودجی تخصیص ورکول.
- د ښوونځیو لپاره د لابراتواری موادو او وسایلو رالیږل.
- د محصلانو د اعاشې او اباتې د اجراء لپاره په کافي اندازه د بودیجې تخصیص رالیږل.

# د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

## لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**تولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د سواد زده کړو د دریمې‌سویې (4-6 ټولګي) کتابونو تجربوي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه ټیم نده راغلی ترڅو د دریمې سویې(۴-۶ټولګي) کتابونو تجربوي تطبیق ترسره کړي.

**1.2 فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه او (ګرشک، ناوی، ګرمسیر، نادعلی، کجکی، سنګین، موسی قلعه، دیشو او باغران) ولسوالیو کې د ۷۶ بابه سواد زده کړې کورسونو څخه د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو د پراختیا په موخه څارنه ترسره شوې ده.

**1.3 فعالیت: د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛**

د ۱۴۰۳ کال مالي کال ترپای پورې، د مرکزي ټیم لخوا ۵۳ تنو علمي غړو ته په کندهار زون کې او د ولایتي ټیم لخوا د ټولو ولسوالیو ۲۱۳ تنه علمي غړو ته د ظرفیت لوړولو سیمینار ورکړل شو.

**1.4 فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د انکشاف مسلکي علمي غړو لخوا د مرکز لښکرګاه، ګرمسیر او مارجې ولسوالیو کې ۱۵۸ تنو ته د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې یو ورځنی سیمینار په لاره واچول شو. په دې ورکشاپ کې ۳ تنه مدیران، ۱۷ تنه سرښوونکي، ۶۱ تنه ښوونکي، ۴۱ تنه د شوراء غړي او ۳٦ تنه علمي غړي ګډون درلود.

**۱٫۵ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کیدو په موخه لازم چمتوالی؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.6 فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوموللوپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ساینس مدیریت علمي غړو لخوا د لشکرګاه ښار، ګرشک او موسی قلعه ولسوالۍ کې د ٦ بابه ښوونځیو څخه د لابراتوارونو د اړتیاوو د معلوموملو په موخه سروې ترسره شوې ده.

**1.7 فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ساینس مدیریت علمي غړو لخوا په لشکرگاه ښار، گرشک او موسی قلعه ولسوالیو کې د ٦ بابه ښوونځیو څخه د لابراتوارونو او کمپیوټرونو د اغیزمنتوب په موخه لیدنه ترسره شوې ده، چې د یادې لیدنې په ترڅ کې د ښوونځیو مسؤولینو ته د لابراتوارونو او کمپیوټرونو د اغیزمنتوب په اړه لازمې سپارښتنې وشوې.

**1.8 فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروگرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ساینس مسلکي غړو لخوا د لشکرگاه ښار او گرشک ولسوالۍ د ساینس او ریاضیاتو ٦۰ تنو ښوونکو ته او د انکشاف مسلکي غړو لخوا د ریاضي او کیمیا ۲۸ تنو غړو ته د ساینس او ریاضي په برخه کې یو ورځنی سیمینار په لشکرگاه ښار او گرشک ولسوالۍ کې په لاره واچول شو.

**1.9 فعالیت: د مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څارونډی د تروپ گروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د انکشاف مسلکي علمي غړو لخوا د مارجې، ناوې، بهرامچه او موسی قلعه ولسوالیو کې د بدنې روزنې ۳۳ تنه ښوونکو ته، ۲۴ تنه د اصول صنفي ښوونکو ته او همدارنگه د روغتیا په برخه کې ۵ تنه آمرین، ۵۴ تنه ښوونکو، ٦ تنه مدیرانو او ۹۰۵ تنه زده کوونکو ته ورکشاپ ورکړل شو.

**1.10 فعالیت: د څارني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په گډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروگرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې دمرکز څخه تیم نه دی راغلی ترڅو د سواد زده کړې د پروگرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره لازمې لارښوونې ترتیب کړي.

**1.11 فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروگرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرگاه کې د سواد زده کړو پروگرامونو د غوره تطبیق او د هغوی د مؤثریت په اړه د لا زیاتو هڅو په ترڅ کې، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي کولو لپاره یو مهم ورکشاپ څلور تنو ته په لاره واچول شو.

**1.12 فعالیت: د سواد زده کړې پروگرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د شوراء گانو مدیریت لخوا په موسی قلعه ولسوالۍ کې ۱۵ تنه ښوونکي د سواد زده کړې پروگرام د پلي کولو په موخه جلب شوي دي. په عین حال کې، د سیمې خلکو او اړوند ادارو له خوا ټولټال ۷۳۳۵۰ افغانۍ ترلاسه شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د موسی قلعه ولسوالۍ د نسیمیه مدرسې یو باب دارالعلوم ته د ارتقاء شرایط برابر کړي دي، خو د وزارت محترم مقام څخه یې منظوري تراوسه نه ده راغلې.

**2.2 فعالیت: د طالب العلمانو او زده کړیالانو ترمنځ د علمی سیالیو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د انکشاف مسلکي مدرسینو لخوا په مرکز لښکرګاه، ناوه او مارجه ولسوالیو کې په مرکزي ښوونځیو کې ۵۴۵ تنو زده کوونکو ترمنځ د زده کړیز کیفیت په موخه علمي سیالۍ ترسره شوې

**2.3 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي علمي غړو لخوا د لښکرګاه د مرکزي دارالعلوم او همدارنګه د موسی قلعه ۵ بابه، سنګین ۲ بابه، کجکي ۲ بابه او بهرامچه ولسوالۍ د ۲ بابه دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو څخه څارنه ترسره شوه. په یادې څارنې کې د دې دارالعلومونو ټولټال ۱۲۴ اړتیاوې په ګوته شوې.

**2.4 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د انکشاف مسلکي علمي غړو لخوا د نوي مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه سیمینار په مرکز لښکرګاه کې په لاره واچول شو.

**2.5 فعالیت: د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلېږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د علمي او تدریسي غړو لخوا په مرکز لښکرګاه او (ناومیش، ناوې، مارجې، بهرامچه، باغران، خانشین، سنګین، باباجي، موسی قلعه، بغني او دیشو) ولسوالیو کې د ۱۹۲۶ مدرسو او ۸۰ دارالحفاظونو څخه دقیقې څارنې ترسره شوې. په دې څارنې کې د مدرسو لپاره ۳۷۳ اړینې اړتیاوې او د دارالحفاظونو لپاره ۲۶ اړینې اړتیاوې په ګوته شوې، چې دې څارنې په تعلیمي نظام کې د پرمختګ او اصلاح لپاره ځانګړې لارښوونې او اقدامات وړاندیز کړل.

**2.6 فعالیت: په شته ډېټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**
۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د ۱۲۹ تنه علماء کرامو ازموینې په ډېټابیس کې ثبت شوې، چې دا اقدام د اسلامي پوهې د پراختیا او معیاري ازموینو د اجراآتو لپاره یوه مهمه ګام دی. دغه ثبت شوي معلومات نه یوازې د علمي شفافیت زیاتوالی راولي، بلکه د علماء کرامو د وړتیاوو د ارزونې په برخه کې د اسانتیاوو په رامنځته کولو کې هم مهمه ونډه لري.

**2.7 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپېژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه په شمول د ټولو ولسوالیو ۳۸ تنه د انکشاف مسلکي مدرسینو ته د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نوو درسي کتابونو د ورپېژندلو په موخه ورکشاپ په بریالیتوب سره په لاره واچول شو.

**2.8 فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت په سطحه د ۳۳۱۴ تنو عالمیه او عالیه درجې فارغانو لپاره د مشترکې ازموینې ثبت نام ترسره شوی دی.

### ۳. د کیفیت تضمین

**3.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لشکرگاه ښار او ټولو ولسواليو کې د مرکز څخه راغلي هیئت په همکاری د احصائیه مدیریت لخوا ۲۳ ورکشاپونه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولو په موخه په لاره اچول شوي دي.

**3.2 فعالیت: د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10٪ کتنه او تصدیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت لخوا د ښار او ټولو ولسوالیو د احصائیې ارقام چک او راپورونه یې تائید شویدي.

**3.3 فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصاییي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول لازم مواد د اړونده ځانگو څخه راټول شوي دي او مربوطه مرجع ته په خپل وخت استول شوي دي.

**3.4 فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د 1403 هـ ش کال د احصاییي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛"**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول لازم مواد د اړونده ځانگو څخه راټول شوي او مربوطه مرجع ته په خپل وخت استول شوي دي.

**3.5 فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري دهلمند ولایت په سطحه د ۳۸۰ بابه نویو تأسیس شویو او همدارنگه د تیروکلونو د پاتې شویو ښوونځیو مختصات راټول شوي دي.

**3.6 فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت لخوا د دولتي او خصوصي ښوونځیو فارغ زده کوونکو لپاره ۵۷۵۵ گروپي شهادتنامې ترتیب،تائید او ویشل شوي دي.

**3.7 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت له لورې د هلمند ولایت پوهنې ریاست د نتایجو مدیریت ته د دولسم ټولگي فارغ زده کوونکو لپاره ۳۸۹۰ سپین بري لیکونه ورکړل شوي دي.

**3.8 فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولگیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت لخوا ۷۶ جلده نتایج تائید او تطبیق شوي دي چې دیادو ارقامو له جملې څخه ۱۴ جلده د خصوصي ښوونځیو دي.

**3.9 فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د هلمند د پوهنې ریاست لپاره له مرکز څخه یو دوه کسیز ټیم راغلی و. د دې ټیم موخه دا وه چې د راپور ورکولو په برخه کې د مرکزي هستې ټولو مدیریتونو د راپور مسؤلینو ته څلور ورځنی روزنیز ورکشاپ برابر کړي. د ورکشاپ هدف دا و چې گډون کوونکي وکولای شي میاشتني او ربعوار راپورونه د پالیسي، طرزالعمل، رهنمود او ټاکل شویو فارمټونو په اساس ترتیب کړي او په خپل وخت یې له مرکز سره شریک کړي. په دې ورکشاپ کې ۴۰ تنه گډون وکړل، چې د راپور ورکولو وړتیاوې یې لا پیاوړې کړي.

**3.10 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت څخه ټیم هلمند ولایت ته راغلی و ترڅو د هلمند ولایت د پوهنې ریاست د عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه ترسره کړي.

**3.11 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې مدیریت له لوري د کوار همکار مؤسسې له پروژې څخه څارنه ترسره شوې.

**3.12 فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیسټم استفاده کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی،ځکه چې له مرکز څخه مونږ ته د څارنې اوارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم نده راکړل شوی.

**3.13 فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیسټم پراختیا او تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت څخه ټیم راغلی و ترڅو د راپور ورکولو آنلاین سیستم فعاله او د تحلیل او توحید گزارشاتو غړو ته روزنه ورکړي ترڅو میاشتني راپورونه د راپور ورکولو آنلاین سیستم کې په خپل وخت ثبت کړي.

**3.14 فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کیفیت د تضمین آمریت له لوري د پوهنې وزارت څخه رالیږل شویو فارمټونو کې د مربوطه برنامو او د ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه میاشتني راپورونه راټول او د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو په هکله ۴ ربعوار راپورونه ترتیب او د پوهنې وزارت سره په خپل وخت شریک شوي دي.

**3.15 فعالیت: د ټودو سیمو په اوو ولایتونو (قندهار، لغمان، ننگرهار، نیمروز، فراه، هلمند او کنړ) کې د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو کې د انکشاف مسلکي غړو لخوا د شپږم ټولگي زده کوونکو د ریاضي پوهې د پرمختګ ارزونه ترسره شوه.

**3.16 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه ټیم نده راغلی ترڅو د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیاوو ارزونه او تجربوي تطبیق ترسره کړي.

**3.17 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم نده راغلی ترڅو د تقنیني سندونو ا و پالیسیو په برخه کې کارکوونکو ته ورکشاپ ورکړي.

## ۴. سرچینې او اداره

**4.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د داخلي عوایدو په راټولولو کې زیات والی؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د خدماتو مدیریت لخوا د داخلي عوایدو په راټولولو کی زیاتوالی راغلی.

**4.2 فعالیت: د بودیجې د ترتیب او لګښتونو د تعقیب سیسټم (BPET) پراختیا او نوي کول؛**

د 1403 کال مالي کال تر پای پورې، دبودیجې دترتیب او لګښتونو د تعقیب سیستم فعال دی، او ټول معاشاتي او مصارفاتي حوالې د یاد سیستم له لارې ترتیب کیږي.

**4.3 فعالیت: د مالیې وزارت په موافقه د هېواد په ۱۱ ولایتونو کې د افمیس سیستم ته پراختیا ورکول؛**

د هلمند ولایت د پوهنې ریاست خوشبختانه د هغه ولایتونو په قطار کې راغلی چې دافمیس سیستم په کې فعاله شویده.

**4.4 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکزي ټیم لخوا ۵ تنو کارکوونکو ته په مالي چارو کې روزنه ورکړل شوې، چې په نتیجه کې د یادو کسانو کاري ظرفیت لوړ شوی دی.

**4.5 فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د ستراتیژۍ طرحې جوړول؛**

۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره ستراتیژي جوړه شوې او د کارکوونکو د ظرفیت د کچې ټاکل شوې معیار بشپړ شوی دی.

**4.6 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنايي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنايي کول ترسره شوي دي، او د سوانحو د تصحیح او تطبیق پروسه بشپړ او تکمیل شوې ده.

**4.7 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په موسی قلعه، سنګین او بغنی ولسوالیو کې د ۱۰ ښوونځیو جایدادونو لپاره اړین سندونه ترتیب شوي دي.

**4.8 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د بغنی، واشیر، کجکی، نوزاد او سنګین ولسوالیو د ۱۰ ښوونځیو تعمیرات ثبت شوي، او د ګرمسیر او لشکرګاه ښار د ۹ ښوونځیو احاطوي دیوالونه هم ثبت شوي دي. همدارنګه، د مرکز په شمول، په ټولو ولسوالیو کې د ترمیم شویو او ثبت شویو روزنیزو مرکزونو شمیر ۲۶ دی.

**4.9 فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د املاکو مدیریت لخوا ۱۶ بابه ښوونځیو د سند ملکیت او همدارنګه د 22 بابه خصوصي ښوونځیو سجلونه ثبت شوي دي.

**4.10 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرګاه، سنګین، موسی قلعه، نادعلي، نوزاد، کجکي او نهرسراج ولسوالیو کې ۱۵ قضیې څارل شوي، او په نهرسراج، مارجه، کجکي، نوزاد، نادعلي، ناوه، سنګین او موسی قلعه ولسوالیو کې ۴۵ قضیې د غصب ثبت شوې دي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**5.1 فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د هلمند ولایت پوهنې رئیس د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمانونو، د وزیرانو شورا، د ریاست الوزرا او د پوهنې وزارت مشرتابه د حکمونو او لارښوونو د تطبیق دپاره ترلاسه کولو په موخه ټولو ولسوالیو ته سفر کړی دی.

**5.2 فعالیت د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نشراتو مدیریت لخوا ۳۲۵ د عرفان مجلې ، ۲۸۰ د بخوان او بیندیش مجلې او ۱۰۱۰ اوونیزې مجلې ، ۳۱ بروشرونه د ښار او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته ورکړل شوي دي.

**5.3 فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی،ځکه چې دپوهنې وزارت څخه دپوهنې د یوکلنې کړنې په هکله کتابونه هلمند ولایت ته ندي رالیږل شوي.

**5.4 فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نشراتو مدیریت لخوا د ښار او ولسوالیو د توزیع شوي درسي کتابونو د پروسې څخه تخنیکي کتنه ترسره شوې ده.

**5.5 فعالیت: د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د نشراتو ریاست له لوري ۵۳۵ سیټ پښتو او دری ژبو کتابونه پوهنې ریاست ته رالیږل شوي وو، چې دغه کتابونه په ټاکلي وخت کې په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د سواد زده کړې ټولګیو زده کوونکو ته ویشل شوي دي.

**5.6 فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د عامه اړیکو او نشراتو مدیریت لخوا ۴۷۶۵ جلده د بدني روزنې د ښوونکو لارښود کتابونه توزیع شوي دي.

**5.7 فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د نشراتو مدیریت لخوا یاد فعالیت د امکاناتو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**5.8 فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پلټنې مدیریت لخوا په باغران او بغني ولسوالیو کې ٦ تنو کارکوونکو ته د پلټنې په برخه کې روزنه ورکړل شوې ده.

**5.9 فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د دعوت او ارشاد ریاست کارکوونکو د هلمند ولایت شمالي او جنوبي ولسوالیو ته ۲ رسمي سفرونه ترسره کړي دي.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**ټولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په پنځو ولسوالیو (ناوه، مارجه، ګرمسیر، نادعلي او خانشین) کې د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړوند پروګرامونو د تطبیق څرنګوالي څارنه ترسره شوه. د دې څارنې په ترڅ کې ځینې نیمګړتیاوې په ګوته شوې او لازمي سپارښتنې ورته وشوې.

**1.2 فعالیت: د ولایتونو په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې ۴۲ غیر فعال ښوونځي بیا فعال شوي دي. د دې ښوونځیو د بیا فعالېدو سره، زده کوونکي به خپلو درسونو ته ادامه ورکړي او د تعلیم لوی نعمت به ترلاسه کړي.

**1.3 فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ساینس مدیریت لخوا په مارجه او نوزاد ولسوالیو کې د مرکزي لیسو لپاره ۳ لابراتوارونه جوړ شوي دي. په مرکز لښکرګاه، ګرشک او مارجه ولسوالیو کې ۱۱ لابراتوارونو ته اړین مواد ورکړل شوي دي، ترڅو زده کوونکي په عملي ډول تجربې ترسره کړي. همدارنګه، په مرکز لښکرګاه کې یو کمپیوټر لابراتوار هم تجهیز شوی دی.

**1.4 فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې ټولټال (۲۵۵۱۳) تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي چې د یادو ارقامو له جملې څخه ( ۱۸۲۷۸) تنه ذکور او (۷۲۳۵) تنه ښځینه زده کوونکي دي.

**1.5 فعالیت: د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز لښکرګاه کې ۷ بابه خصوصي ښوونځي او په (دیشو، بهرامچه او ناوه) ولسوالیو کې ۳ بابه امارتي ښوونځي نوي تاسیس شوي دي.

**1.6 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لېسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرګاه او موسی قلعه ولسوالۍ کې ۷ بابه نارینه امارتي ښوونځي او په مرکز لښکرګاه کې ۵ بابه مختلط ښوونځي له لومړۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته ارتقا شوي دي، همدارنګه ۳ بابه نارینه دولتي ښوونځي له منځنۍ دورې څخه لیسې دورې ته ارتقا موندلې ده.

**1.7 فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرګاه کې د ۲ بابه دولتي ښوونځیو نومونه تغیر شوي دي، چې له مخې یې د شمال بولان ښوونځی "میرویس هوتک" او د اهل هنود ښوونځی "لقمان حکیم" ښوونځي په نوم نومول شوي دي. همدارنګه د مختار قلعه ښوونځی له مختار قلعه سیمې څخه د لښکرګاه ښار اړوند کسبي سیمې ته انتقال شوی دی.

**1.8 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه او موسی قلعه ولسوالۍ کې د ۳ بابه ښوونځیو لپاره د یونیسیف په مالي لګښت احاطوي دیوال او همدارنګه داوبو څاګانې کیندل شوي دي.

**1.9 فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د هلمند ولایت د پوهنې ریاست ته ٦۴ تنه زده‌کوونکي، چې له بهر څخه راستانه شوي وو، مراجعه کړې ده او اړونده ښوونځیو ته معرفي شوي دي. همدارنګه، د مارجې ولسوالۍ ۲۱۵۰ تنه مجاهدین د ټولګي د تثبیت له ترسره کېدو وروسته خپلو اړونده ټولګیو ته جذب شوي دي.

**1.10 فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایېزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه‌دی ترسره شوی، ځکه چې سیمه‌ییزې او چټکې زده‌کړې د امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د فرمان له مخې تر امر ثاني پورې بندې اعلان شوې دي.

**1.11 فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ کال مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرګاه ا و (نهر سراج، سنګین، موسی قلعه اوناومیش) ولسوالۍ کې ۱۷ څارندوی، ترافیک او اطفائیه ټیمونه جوړ شوي دي.

**1.12 فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه کې د سواد د اهمیت په اړه ۴ د عامه پوهاوي پروګرامونه د بروشرونو له لارې او همدارنګه ۱۲۰ د عامه پوهاوي پروګرامونه د جوماتونو او تکیه خانو له لارې ترسره شوي دي.

**1.13 فعالیت: د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ کال ترپایه د مرکز او ولسوالیو ۱۵۰ تنه داخلي بې ځایه شویو زده کوونکو ته د زده کړې زمینه مساعده شوې ده.

**1.14 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرګاه او اړوندو ولسوالیو کې د سواد زده کړې په کورسونو کې ټولټال ۷۱۸۰ تنه نالوستي زده کوونکي جذب شوي، چې له دې ډلې څخه ۳۸۴۵ تنه په مرکز او ۳۳۳۵ تنه په باغران، ګرشک، ناوه او نادعلي ولسوالیو کې جذب شوي دي.

**1.15 فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د سواد زده کړې په کورسونو کې ۹۲۳ تنه زده کوونکي د ملا امامانو له لارې او ۴۷ تنه د کوچیانو د پروګرام له لارې جذب شوي دي.

**1.16 فعالیت: د هېواد په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د سواد زده کړې مدیریت لخوا په گرمسیر ولسوالۍ کې د لسو تنو ښوونکو په همکارۍ ۸۶ بابه کورسونه او د کوچیانو لپاره ۳ بابه کورسونه جوړ شوي، او همدارنگه په مسجدونو کې د سواد زده کړې کورسونه د بودیجې د نشتون له امله رامنځته نه شول.

**1.17 فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرگاه او ناوې ولسوالۍ کې ۷ خصوصي ښوونځي نوي تاسیس شوي، په مرکز لښکرگاه کې ۳ خصوصي ښوونځي د منځني دورې ته ارتقاء شوي، ۱۰ خصوصي کورسونه تاسیس شوي، او د ۴ خصوصي کورسونو جوازونه تمدید شوي دي. همدارنگه، ۲ ښوونځیو له منځني دورې څخه لیسې دورې ته ارتقاء کړې ده.

**1.18 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو درې کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ۲ نارینه او ۱ ښځینه زده کوونکو تعلیمي سوابق (ترانسکریپټ) په بشپړه توگه ترتیب شوي دي.

**1.19 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرگاه کې ۳۰ تنه مالي اړخه کمزوري زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شوې، چې له دې ډلې ۱۲ تنه زده کوونکي خصوصي ښوونځیو ته او ۱۸ تنه زده کوونکي خصوصي کورسونو ته معرفي شول، ترڅو هغوی وکولای شي خپلې تعلیمي اړتیاوې پوره کړي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بڼې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز او ولسوالیو کې ټولټال ۷ بابه خصوصي مدرسې او ۱۸۰۰ بابه د اسلامي زده کړو محلي ټولگی تأسیس شوي دي. همدارنگه، په موسی قلعه ولسوالۍ کې یو باب، په دیشو ولسوالۍ کې یو باب د اسلامیه حنیفیه مدرسه، او په مارجې ولسوالي کې درې بابه (الجامعه ام القرای شمس المدارس، اصحاف سفه، او مدرسه اسلامیه) مدرسو نومونه تغیر شوي دي.

**2.2 فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بڼې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،په مرکز لښکرگاه ښار کې ٦ بابه خصوصي مدرسو ته جوازونه ورکړل شوي دي، د ۳ بابه خصوصي مدرسو جوازونه نوي شوي او په لشگرگاه ښار کې د ۵ بابه خصوصي مدرسو څارنه ترسره شویده.

**2.3 فعالیت: د ۱۵۰۰۰ حافظانو او علماء کرامو د سوېې تثبیت؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په تعداد ( ۵٦۷) تنه حافظان، ۸۵۴ تنه 12 ټولگي ته، ( ۷۲۵ ) تنه ۱۴ ټولگی ته او په تعداد ( ۷۷۴ ) تنه عالمیه دورې ته علماء کرام تثبیت شوي دي.

**2.4 فعالیت: د کابل ښار او ولایتونو د مدرسینو د ظرفیت لوړولو په موخه د ورکشاپونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو له لوري په مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو (٦۵۷) تنه مدرسینو ته د ظرفیت لوړولو په موخه ورکشاپ ورکړل شوی ده.

**2.5 فعالیت: د میتودیکي اړتیاؤ د معلوملو په موخه د اسلامي زده کړو په بنسټونو کې د مدرسینو او استادانو ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، پوې د انکشاف مسلکي علمي غړو لخوا په مرکز لښکرگاه او ټولو ولسواليو کې د ميتوديکي اړتياؤ دمعلومولو په موخه ۲۸۴ تنه مدرسين ارزول شوي دي.

**2.6 فعاليت: د دارالعلومونو د اداري او تدريسي لوازمو د اړتياوو بشپړول او تجهيزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرگاه په ښار کې يو باب دارالعلوم اړتياوې په گوته شويدي.

**2.7 فعاليت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي وسایلو تجهیز او بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت له لوري په مرکز لښکرگاه کې مرکزي دارالعلوم ته ۸۹۰ شاگردانو ته د تدريس د کيفيت د ښه والي په موخه کتابونه او نور اړين لوازم ورکړل شوي دي.

**2.8 فعاليت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموينې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولگيو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جديدالشمولانو جلب او جذب؛**

د۱۴۰۳ کال مالي کال ترپای پورې، ۸۵۴ تنه خامسه،۷۲۵ تنه عاليه او ۷۷۴ عالميه طالب العلمان جلب او جذب شويدی.

**2.9 فعاليت: د ۷۷۰۰ مدرسو او د نويو دارالحفاظونو جوړول او نيمه عالي دارالحفاظونو ته د ۳ بابه دارالحفاظونو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په ناوه، گرمسير، سنگين، مارجه، کجکي، خانشين او نهرسراج ولسواليو کې ۲۶۹ ذکور او ۱ اناث مدرسې او په نادعلي ولسوالۍ کې ۳۹ نارينه دارالحفاظونه جوړ شوي دي.

**2.10 فعاليت: د هېواد په مرکز او ولايتونو کې د ٦٠٠ بابه کليوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،کليوالي مدرسې او دارالحفاظونه د تشکيل د نشتون له امله ندي تاسيس شوي.

**2.11 فعاليت: د هېواد په مرکز او ولايتونو کې د ١٦٠٠٠ بابه عمومي او کليوالي مدرسو سمبالول/تجهيزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په (گرمسير، ناوميش ، موسی قلعه باغران او ديشو) ولسواليو کې 90 بابه کليوالي مدرسې او 216 بابه عمومي مدرسې تجهيز شوي دي.

## 3. سرچينې او اداره

**3.1 فعاليت: ښوونيزو او اداري مرکزونو او نويو تاسيس شويو ښوونځيو ته د تشکيل او کوډونو ليږدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د تشکيل مديريت لخوا په تعداد ۱۲ ريزرف او د اسلامي زده کړو بستونه د کجکی، باغران، ديشو او بهرامچه ولسوالۍ ښوونځيو ته انتقال شويدي.

**3.2 فعاليت: د ښوونځيو د تشکيل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او ليسې ته او نورو ښوونيزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،ياد فعاليت نده ترسره شوی،ځکه چا مراجعه نده کړې.

**3.3 فعاليت: د طرحو، ساختارونو او تشکيلاتي احصايو نهايي کول او د منظورۍ او تطبيق په خاطر يې د رياست الوزرا لوړ مقام ته ليږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچينو مديريت له لوري تشکيلاتي احصائيه نهايي شوې ده او د منظورۍ په موخه د رياست الوزرا لوړ مقام ته ليږل شوې ده.

**۳,۴ فعاليت: د بشري سرچينو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولايتي ادارو د دندو د لايحو بيا کتنه او معياري کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست اړوند کارمندانو لایحې او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د کارمندانو لایحې کتنه شوې ده. همدارنګه، د ټولو ولسوالیو د ښوونځیو د مدیرانو او سرښوونکو لایحې او پلانونه هم کتل شوي دي.

**3.5 فعالیت: د برېښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخنیکي ټیم ټاکل او لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د بریښنایي سیستم د تطبیق، جنسیتونو د محاسبې، عامه جایدادونو د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه یو تخنیکي ټیم ټولو ولسوالیو ته استول شوی دی.

**3.6 فعالیت: په ولایتونو کې د دیخیلو ادارو لخوا د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په اساس مسؤلینو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابرول، لارښوود چمتو کول او پوسترونه ویشل.**

د ۱۴۰۳ کال دویمې ربعې تر پای پورې، په لشکرګاه ښار او ټولو ولسوالیو کې د ساتنې او خوندیتوب مدیریت لخوا د ماینونو او ناوچاودیدونکو موادو د خطرونو په اړه ۲۶۳۸۲ تنو ته د چارټونو، شکلونو او پوسټرونو له لارې پوهاوی ورکړل شوی دی.

**3.7 فعالیت: په ولایتونو کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بودیجی د نه شتون له امله نوموړی فعالیت ندی ترسره شوی.

**3.8 فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د یونیسیف همکارو مؤسساتو له لوري په ګرمسیر، کجکي، سنګین، نهرسراج، باغران، بهرامچه او موسی قلعه ولسوالیو کې د ۲۰ بابه ښوونځیو ساختماني پروژو چارې ترسره شوې دي.

**3.9 فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي امارت د بودیجې څخه ۴۶ ښوونځیو دترمیم او د یونسیف مؤسسې له بودیجې څخه ۴ بابه ښوونځیو د ترمیم شوي دي.

**3.10 فعالیت: د مرکز او ولایتونو څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ کال دویمې ربعې ترپای پورې، د انجینري مدیریت لخوا د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د موادو نرخونه پرټاکلي وخت راټول شویدي.

**3.11 فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په لشکرګاه، ناوه، مارجه او ګرشک ولسوالۍ کې اووه نیم جریبه ځمکه د معارف پاله خلکو لخوا ښوونځیو ته وقف کړل شویده.

**3.12 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**

د هلمند پوهنې ریاست د املاکو مدیریت له لورې د مالي کال ترپایه۱۹ دوسیې محکمې ته د غصب دمخنیوي کمیسیون او قضایي امارتي ارګانو ته وړاندې شوي دي.

### ۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**1.4 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او پوهنې ریاستونو استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه چې څومره فرمانونه، مکتوبونه او مصوبې چې هلمند ولایت ته رالیرل شویدي په خپل وخت اړوندو شعبو ته تکثیر شوي دي او همدارنګه دمراجعینو کارونه هم په منظم او ښه شکل ترسره شویدي.

## 3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رښو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد د ولایتونو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم نه دی راغلی تر څو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه وکړي. خو د پوهنې ریاست په سطحه، د څارنې او ارزونې مدیریت مسلکي غړو لخوا د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه ترسره شوه، چې د دې څارنې په پایله کې دا روښانه شوه چې د ښوونکو ګمارنه په بشپړ شفافیت سره ترسره شوې ده.

**1.2 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د کور همکار مؤسسې له هوکړه لیک څخه څارنه ترسره شویده.

**1.3 فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،د کادري غړو علمي رتبې تر دامهاله بند دي.

**1.4 فعالیت: د کابل ښار په ګډون په ولایتونو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هڅوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست د شوراء مسلکي غړو لخوا د ښار او ولسوالیو د ښوونځیو د شوراګانو څخه څارنه ترسره شوه چې د څارنې په ترڅ کې د یادو شوراګانو غړو ته لازمي سپارښتنې وشوې.

**1.5 فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د انکشاف مسلکي مدیریت لخوا په مرکز لښکرګاه ښار کې د ۲ مرکزونو او ۱۶ د سواد زده کړې کورسونو څارنه ترسره شوه. همدارنګه، په ګرشک، ناوې، نادعلي، مارجې، کجکي، ناومیش، سنګین، موسی قلعه، بغني، باباجي او دیشو ولسوالیو کې د ۴۲۰ ښوونځیو او ۳۰ بابه سواد زده کړې کورسونو څخه هم څارنه ترسره شوې.

**1.6 فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ٦٩١٥٦ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د انکشاف مسلکي مدیریت لخوا په مرکز لښکرگاه ښار او ۸ ولسوالیو کې د ۱۹۴ ښوونځیو مدیرانو، ۳۵۷ سرښوونکو او ۱۳۷۶ ښوونکو د درسونو مشاهده ترسره شوه. همدارنگه، په ناوه، نادعلي او موسی قلعه ولسوالیو کې د سواد زده کړې ۹۴ ښوونکو کارونه مشاهده او ارزول شوي دي.

**1.7 فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو علمي غړو څخه ۱۲ میاشتني، ۴ ربعوار او یو کلنی راپورونه ترلاسه شوي، چې وروسته له تحلیل او توحید څخه وړاندې شوي دي.

**1.8 فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرگاه کې د یوه همکار مؤسسې سره د "کور" په نوم هوکړه لیک ترسره شوی دی. همدارنگه، د وادي هلمند پوهنتون او عمري د نیمه عالی تحصیلاتو انستیتوت سره دوه نوي هوکړه لیکونه لاسلیک شوي، او په مرکز لښکرگاه کې د بست پوهنتون او عمري انستیتوت سره د هوکړه لیکونو نظارت او مثبت ارزونې ترسره شوې دي.

**1.9 فعالیت: د ولایتي ریاستونو له لارې په کابل ښار او ولایتونو کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی،ځکه چې د انجونو ښوونځي تر امر ثاني بند دي.

**1.10 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د هلمند پوهنې ریاست د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د ۷ تنه زده کوونکو تعلیمي سوابق(ترانسکرپټ) ترتیب اوهمدارنگه ۴ تعلیمي سوابق لیږل شوي دي.

**1.11 فعالیت: د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټولول چې د ۱۴۰۳ کال په پای کې دولتي ښوونځیو ته لیږدول کیږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې سیمه اییز او چټک ټولګي ترامر ثاني بند دي.

**1.12 فعالیت: په بیړنۍ حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،د موسی قلعه ولسوالۍ د تړل شویو ښوونځیو د زده کوونکو احصائیه راټوله شویده چې په یادو ښوونځیو کې ټولټال ۶۴ تنه زده کوونکي زده کړه کوله.

**1.13 فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروگرام (WFP) په مرسته د هېواد په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د البندازول د ټابلیټونو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د روغتیا د مدیریت لخوا د ښار او ولسوالیو په ۸۹۰ ښوونځیو کې ۳۸۰۴۱۸ تنه زده کوونکو ته په البندازول گولۍ توزیع شویدي.

**1.14 فعالیت: د کابل ښار پوهنې ریاست په ګډون په ټولو ولایتونو کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه او (نهر سراج، ناوه، نادعلي، اوناومیش) ولسوالیوکې د څارندوی ټیمونو له لاري د مخدره موادو په پر وړاندې ۵ د مبارزې تبلیغات ترسره شوي دي.

**1.15 فعالیت: د وړتیاوو د معلوملو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه کې د وړتیاوو د معلومولو او ملي نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه ۲ ورزشي سیالۍ په لاره اچول شوي دي چې دیادو سیالیو څخه ۱۰ تنه ورزشکاران نړیوالو او ملي لوبو ته معرفي شوي دي.

**1.16 فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ په موخه ۴ ولایتي غونډه په مرکز لښکرګاه کې جوړې شوي او همدارنګه په (ناوه، ګرمسیر، ګرشک، کجکی، واشیر، نوزاد، خانشین، موسی قلعه، سنګین، بهرامچه، ناومیش او دیشو) ولسوالیو کې ۶۰ غونډې جوړې شویدي.

**1.17 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز لښکرګاه کې یو باب «کابل» خصوصي ښوونیز مرکز په رسمي ډول بل شخص ته سپارل شوی، دوه بابه خصوصي ښوونځي له مرکز څخه د ګرمسیر ولسوالۍ ته انتقال شوي، او همدارنګه په مرکز لښکرګاه کې د «لبیک العلم»، «سازش نمبر ۲»، «سازش نمبر ۳»، «عمري هلمند» او «سخي اولیاء» خصوصي ښوونځیو مدیران په رسمي ډول تبدیل شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو دیپلوماتیک او ثبت شوي اتشې سندونو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ کال د مالي کال ترپایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا په تعداد (۷۲۵) عالیه او (۸۵۴) خامسه سندونه ثبت او ارزیابي شوي دي.

**2.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، مرکزی ټیم لخوا د مرکز لښکرګاه په شمول د ټولو ولسوالیو د ٦٦ مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څخه څارنه او کنټرول ترسره شویده چې یادو غړو کارونه په شفاف اومنظم شکل ترسره کړي دي.

**2.3 فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه اړوند د مرکز عالي دارالعلوم د ۵ تنه ښوونکو د کادري امتیاز څخه برخمن شوي دي.

**2.4 فعالیت: له ۳۰۷۶۹ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخېستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۳۰۷۶۹ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**
دد ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي امارت له لوري په ګډ امتحان کې له ۷۸۶۲ تنو ګډونوالو څخه ازموینه اخیستل شوې ده. همدارنګه، د ۱۲م ټولګي ۳۱۰ قطعې او د ۱۴م ټولګي ۵۴۱ قطعې شهادتنامې فارغینو ته وېشل شوې دي، چې د وېش بهیر لا هم دوام لري.

**2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا په لشکرګاه ښار کی د قرانکریم ، حفظ او حسن قرائت دوه سیالۍ چی ۱۰۷ حافظان او ۶۰ تنه د حسن قرائت په سیالۍ کې ګډون کړی وه.

## 3. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بشري سرچینو د راجستریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول ( د خالي بستونو په ډاګه کول)؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې، د بشري سرچینو لوی مدیریت لخوا ۶۹۹۹ خالی بستونه پیژندل شوي چې ۱۳۰۲ بستونه په مرکز او پاتې ۵۶۹۷ بستونه په ولسوالیو کې دي.

**3.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجستریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو ۸۸۲۸ تنه عمومي او اسلامي زده کړو کارکوونکي د تشکیل په سیستم کې ثبت او راجستر شوي دي.

**3.3 فعالیت: د تبدیلی او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په لښکرګاه ښار او اړوندو ولسوالیو کې د ۲۴۱ تبدیلیو بستونو اړوند معلومات د ګمارنې محترم ریاست ته سپارل شوي دي. د قدم لوړوالي بهیر د اسلامي امارت د مشرتابه د حکم له مخې تر امر ثاني ځنډول شوی دی.

**3.4 فعالیت: د ۲۵۰۰۰ هویت/پیژند کارتونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت له لوري د پوهنې ریاست ۸۹ تنه کارکونکو ته د هویت کارتونه توزیع شوي دي.

**3.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د بشري سرچینو لوی مدیریت له لوري په مرکز لښکرګاه ښار او اړوندو ولسوالیو کې ۵۲۷ تنه اداري کارکوونکي، ۳۵۰ تنه ښوونکي او ۴۲۷۶ تنه د اسلامي زده کړو مدرسین استخدام او خپلو دندو ته معرفي شوي دي.

**3.6 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو ( د بست او قدم لوړول ) بیاکتل او د پراوونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د بشري سرچینو مدیریت له لوري د ۳۸۶ تنو ښوونکو د قدم لوړوالي منظوري ترلاسه شوې، او همدارنګه د ۳۵ تنو ښوونکو د بستونو د ارتقاء چارې هم ترسره شوې دي.

**3.7 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د بشري سرچینو د مدیریت له لوري په مرکز لښکرګاه او نادعلي، مارجه، ګرمسیر او موسی قلعه ولسوالیو کې ۲۷ تنه کارکوونکي د تقاعد لپاره معرفي او اړوندو مراحلو ته سوق شوي دي.

**3.8 فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له ولایتونو څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه ۱۲ میاشتني راپورونه، ۴ ربعوار راپورونه او همدارنګه ۱ کلنی راپور ترلاسه شوی دی چې خوشبختانه تر اوسه کومه امنیتي پیښه نده رامنځته شوې.

**3.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د ونډې سره سم دچټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول؛**

د ۱۴۰۳ کال مالي کال ترپای پورې، د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لیږد په موخه په مرکز لښکرگاه او ولسوالیو ته ۱۲ ځلې نقلیه وسایط توظیف شوي دي.

**3.10 فعالیت: د پوهنې وزارت د مرکزي او ولایتونو ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي ) قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نشراتو مدیریت لخوا ښار، ناوه، نادعلي او مارجه ولسوالیو ته ۱۷ قلمه مطبوع قرطاسیه توزیع شوې ده.

**3.11 فعالیت: د پوهنې اړوند ریاستونو د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۴۴۰۰۰ پایې میزونو او څوکیو تولیدول او جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د خدماتو مدیریت لخوا د ښار د ۳ ښوونځیو ۱۱۰۳ پایې میز اوچوکۍ ترمیم شویدي.

**3.12 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د ۵۹ نه بشپړ شویو پراختیایي ساختماني پروژو د قرارداد له تطبیق څخه مدیریت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په خانشین، نوزاد ، موسی قلعه او دیشو ولسوالیو کی یوه یوه پروژه چې ۴ څلور ساختمانی پروژې کیږي کارونه یی په ټپه ولاړ دي.

**3.13 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اړتیا او لاربښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د انجینري ټیم لخوا په لشکرگاه ښار او ولسوالیو کی ۵ ترمیماتي او ۴ بنسټیز پروژو څخه څارنه ترسره شوې ده.

**3.14 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې د کرایې ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د تهیه او تدارکاتو مدیریت لخوا ۱۸ دوکانونه ، ۴۳ کانتینونه او ۱۰ جریبه ځمکه په کرایه ورکړل شوي او همدارنگه ۸۰ سرایونه د ښوونځیو لپاره په کرایه نیول شوي دي.

**3.15 فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرگندول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو ترمنځ د ۵ ترمیماتي پروژو په برخه کې مشوري شویدي.

## ۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**4.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشری سرچینو لوی مدیریت لخوا ۱۲ دانې د ۴ بستونه او ۱۴ دانې د ۳ بستونو وړاندیزونه د پوهنی وزارت محترم مقام ته وړاندې شوي.

**4.2 فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یاداښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست او کور همکار مؤسسې ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شویدی.

**4.3 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینگول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، ۱۴۳ دانې متحدالمال او متفرقه مکتوبونه تعقیب شوي، ۲۸۲۲ دانې مکتوبونه ترلاسه او پر خپل وخت اړوندو شعبو ته استول شوي، ۱۲۴ سندونه ترلاسه شوي، ۵ فرمانونه، ۱۷ حکمونه او ۲ مصوبې اړوندو شعباتو ته تکثیر شوي، او ۱۰۴ دانې وړاندیزونه د وزارت محترم مقام ته استول شوي دي.

**4.4 فعالیت: د ولایتونو څخه د تر لاسه شویو راپورونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، له مرکز څخه ۸ تخنیکي او اداري ټیمونه هلمند ولایت ته راغلي، او همدارنګه د ۵۹ تنو خدمتي کارکوونکو اسناد تر اړینو مراحلو تېر شوي دي.

**4.5 فعالیت: د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست د دفتر مدیریت له لوري ۲۸۲۲ اسناد هر اړخیزه کارشناسي شوي او تر ارزونې وروسته اړوند شعبو ته په خپل وخت سپارل شوي دي. همدارنګه، ۷۹۸ مکتوبونه د پوهنې ریاست دفتر ته راجع شوي دي.

**4.6 فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړو او تقویتي پروګرامونو تنظمیول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی،ځکه چې تراوسه چا مراجعه نده کړې.

**4.7 فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د د رهبری د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،۵۰ دانې ځانګړو لارښوونو مکتوبونه ، ۱۱۴ دانې د پریکړو مکتوبونه تکثیر شوي دي او همدارنګه د دفتري کارونو د تنظیم څخه پوره څارنه ترسره شویده.

**4.8 فعالیت: په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ۱۴۰۳ کال (۱) عملیاتي پلان تحلیل ، انسجام او توحید چاري ترسره او اړونـد برنـامو او ولسـوالیوته پـه رسـمي ډول لیږل سویدي.

**4.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د هلمند ولایت د پوهنې ریاست د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو ملي پلان د تحلیل، انسجام او توحید وروسته د پوهنې وزارت مقام سره شریک شوی دی.

**4.10 فعالیت: په مرکزي او ولایتي کچه د انکشافي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پلان مدیریت لخوا ۲۳ ساختماني پروژو کانسپټ نوټونو تحلیل، انسجام او توحید ترسره شوی دی.

**4.11 فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو سره شریکول؛**

د ۱۴۰۳ کال مالي کال تر پای پورې، د ولایتي چارو د سمون رئیس په مشرۍ یو پلاوی هلمند ولایت ته راغلی و او د ۵ کلن پلان مسودې په اړه د نظرونو د توحید وروسته، دا نظرونه پوهنې وزارت ته واستول شول.

**4.12 فعالیت: دمرکزي او ولایتي ریسانو او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت د پوهنې رئیس کاري پلان او همدارنگه د پوهنې ریاست اړوند د ۱۹ ولسوالیو د پوهنې آمرینو کاري پلانونه ترتیب شوي.

**4.13 فعالیت: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې مرکزي او ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت د پلټنې ریاست څخه یو ټیم هلمند ولایت ته راغلی و تر څو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه ترسره کړي.

**4.14 فعالیت: د عدلي او قضایي ارگانونو د قرار کشفي ځانگړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**

دد ۱۴۰۳ کال مالي کال تر پای پورې، د هلمند پوهنې ریاست د پلټنې مدیریت لخوا په سنگین، نوزاد او کجکي ولسوالیو کې د ۳ ځانگړو ښوونځیو د غضب شویو ځمکو قضیو په اړه اړین اجراآت ترسره شوي دي.

**4.15 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروگرامونو پلي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د هلمند ولایت پوهنې ریاست اړوند ۶۸۵ تنه کارمندانو ته د مختصر نصاب تدریس شوی دی، او له یادو کسانو څخه امتحان هم اخیستل شوی دی.

**4.16 فعالیت: د مرکز او ولایتونو کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسی پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول؛**

د ۱۴03 کال مالي کال ترپای پورې، په مرکز او ولسوالیو کې 658 تنه کارمندانو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسی پر بنسټ د اولوالامر اطاعت کولو ته رابلل شوي دي.

**دريمه برخه**

## د غير پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

- یه دې برخه کې اجراآت ندي ترسره شوي.

## تحلیل او پایلې

| شمېره | فعالیتونه | شاخص | کلنۍ موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعالیت حالت: بشپړ شوی | تر کار لاندې | نا پیل شوی | ځنډول شوی | د بشپړ شویو فعالیتونو پایلې | نا پیل شویو، ځنډول شویو نه بشپړ شویو فعالیتونو لاملونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو | | | | | | | | | | | |
| ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | په مرکز او ولایتونو کې د سواد زده کړو د درېمپسوېي (4-6 ټولګي) کتابونو تجربوي تطبیق؛ | د تطبیق شویو ولایتونو شمېر | 1 | ۰ | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم نه راغلی ترڅو د ۴-۶ټولګي د کتابونو تجربوي تطبیق ترسره کړي |
| 1.2 | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛ | د سواد زده کړو د خارل شوو کورسونو شمېر | 47 | ۷٦ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په یادو کورسونو کې بهبود رامنځته شوی | |
| 1.3 | د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛ | د مرکزي ټیم لخوا د روزل شوو ولایتي علمي غړو شمېر | 13 | ۵۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | عامه پوهاوی زیات شویده | |
| 1.3 | | د ولایتي ټیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه د روزل شوو علمي غړو شمېر | 144 | ۲۱۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.4 | د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 157 | ۱۵۸ | ۱۰۰٪ | √ | | | | دعلمي افکارو مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې روزنه ترلاسه کړې ا و عامه پوهاوی یې زیات شویده | |
| 1.5 | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلې کېدو په موخه لازم چمتوالی؛ | د جواز ورکولو سیستم د معرفي کولو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو | 157 | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت دبودیجې دنشتون له امله نده ترسره شوی |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | شمېر | | | | | | | | | |
| 1.6 | د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوملولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوې څارنې شمېر | 1 | ٦ | ٪100 | √ | | | | د یادو ښوونځیو له لابراتوارونو څخه سروې ترسره او لازمي سپارښتنې ورته وشوې | |
| 1.7 | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | 1 | ٦ | ٪100 | √ | | | | د یادو ښوونځیو مسؤلینو ته د کمپیټرونو د اغیزمنتوب په موخه لازمي سپارښتنې وشوې | |
| 1.8 | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غونډو او لابراتونو لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 9 | ۸۸ | ٪100 | √ | | | | د یادو علمي غړو ظرفیت لوړ شویده | |
| 1.9 | د مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش Dewormin (WASH) په برخه کې د خاروندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛ | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | 1 | ۱ | ٪100 | √ | | | | د یادو کسانو عامه پوهاوی زیات شویده | |
| | | د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | 10 | ۳۳ | ٪100 | √ | | | | | |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | 4 | ۲۴ | ٪100 | √ | | | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې د ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | 65 | ٦٥ | ٪100 | √ | | | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې له روزنو د برخمن شویو زده کوونو او ښوونکو شمېر | 600 | ۹۰۵ | ٪100 | √ | | | | | |
| 1.10 | د څارنې ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛ | تر پوښښ لاندې ولسوالیو شمېر | 1 | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم نده راغلی |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.11 | د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبيق په موخه، د ترتيب شويو لايحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنيز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | 2 | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د سواد زده کړې پروګرامونو دښه تطبيق په موخه عامه پوهاوی زيات ترلاسه کړ | |
| 1.12 | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچينو تشخيص او ترلاسه کول، د دولتي، غير دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | د تشخيص شويو او جلب شويو بشري سرچينو شمېر | 15 | ۱۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د ترلاسه شوي بودجې اندازه (افغانی) | 14000 | ۷۳۳۵۰ | ٪۱۰۰ | √ | | | | | |
| ۲. اسلامي زده کړې | | | | | | | | | | | |
| 2.1 | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شويو مدرسو شمېر | 1 | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | بو باب مدرسي دارتقاء شرايط برابر کړيدي خو منظوري يې د وزارت څخه نده راغلي |
| 2.2 | د طالب العلمانو او زده کړيالانو ترمنځ د علمی سياليو په لاره اچول؛ | په پروګرام کې د ګډون کوونکو شمېر | 500 | ۵۴۵ | ٪100 | √ | | | | په دې سره به زده کوونکي تشويق ا و په راتلونکې کې به خپلو درسو ته متوجه وي | |
| 2.3 | د دارالعلومونو د اداري او تدريسي چارو د بيا کتنې او ارتياؤ معلومولو په موخه د علمي او تدريسي غونډو لېږل؛ | د معلوم شويو اړتياؤ شمېر | 228 | ۱۲۴ | ۵۴٪ | | √ | | | | |
| | | د کتل شويو او بررسی شويو دارالعلومونو شمېر | 57 | ۱۳ | ۲۱٪ | | √ | | | | |
| 2.4 | په مرکز او ولايتونو کې د نويو مقرر شويو کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه د لارښوونې سيمينارونو دايرول؛ | د ولايتي داير شويو سيمينارونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | يادو کسانو عامه پوهاوی زيات شويده | |
| 2.5 | د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدريسي کارونو د بياکتنې او اړتياؤ معلومولو په موخه د علمي او تدريسي غړو ورلېږل؛ | د معلوم شويو اړتياؤ شمېر | 228 | ۳۹۹ | ٪100 | √ | | | | | |
| | | د کتل شويو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | 57 | ۲۰۲۰ | 100٪ | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2.6 | په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛ | د ثبت شویو علماء کرامو شمېر | 514 | 129 | ٪25 | | √ | | | | |
| 2.7 | په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شویو ښوونکو شمېر | 32 | ۳۸ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د یادو کسانو ظرفیت لوړ شویده | |
| 2.8 | د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. | د ثبت شویو فارغانو شمېر | 57 | ۳۱۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| ۳. د کیفیت تضمین | | | | | | | | | | | |
| 3.1 | د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړوني ورکشاپونو په لاره اچول؛ | د ولایتونو په کچه د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | 20 | ۲۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د یادو کسانو عامه پوهاوی زیات شوی دی | |
| 3.2 | د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10٪ کتنه او تصدیق؛ | د ارقامو د تصدیق شویو راپورونو شمېر | 1 | ۱ | ٪۱۰۰ | √ | | | | | |
| 3.3 | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| ۳،۴ | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰3 هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.5 | د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 483 | ۳۸۰ | ۷۹٪ | | √ | | | | |
| 3.6 | د برې لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طې مراحل او وېشل؛ | په ګروپي بڼه د وېشل شویو برې لیکونو شمېر | 668 | ۵۷۵۵ | ٪100 | √ | | | | زده کوونکي به د خپلو حقوقو څخه برخمن شي | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.7 | د ولایتونو پوهنې رياستونو ته د سپينو برې ليکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپينو وېشل شويو برې ليکونو شمېر | 3500 | ۳۸۹۰ | ٪100 | √ | | | | زده کوونکي به د خپلو حقوقو څخه برخمن شي | |
| 3.8 | د دولسم او څوارلسم ټولګيو د فارغانو د نتايجو جدولونو تدقيق، تطبيق او تاييدول؛ | د دولتي ښوونځيو د پايلو د تاييد شويو جدولونو شمېر | 62 | ٦٢ | ٪100 | √ | | | | | |
| | | د خصوصي ښوونځيو د پايلو د تاييد شويو جدولونو شمېر | 6 | ۱۴ | ٪100 | √ | | | | | |
| 3.9 | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفيت لوړونه؛ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې د روزل شويو کارکوونکو شمېر | 14 | ۴۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د راپور ورکولو په برخه کې ظرفيت لوړونه رامنځته شويده | |
| 3.10 | د ولايتونو پوهنې رياستونو د فعاليتونو او پلانونو له تطبيق څخه ربعواره څارنه؛ | د ولايتونو د څارل شويو پوهنې رياستونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.11 | د ولايتونو د پوهنې رياستونو او کابل ښار پوهنې رياست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛ | د ولايتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د څارل شويو پروژو څخه د ترتيب شويو توحيدي راپورونو شمېر | 1 | ۱ | ٪۱۰۰ | √ | | | | د يوه باب ( کوار ) همکار مؤسسې د فعاليتونو څخه څارنه شويدی. | |
| 3.12 | د عملياتي پلان له تطبيق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سيستم استفاده کول؛ | د ولسواليو شمېر چې راپورونه يې د استفادې وړ ګرځېدلي | 1 | ٠ | ٪0 | | | √ | | | د آنلاين سيستم دنشتون له امله ياد فعاليت نده ترسره شوی |
| 3.13 | د عملياتي پلان د راپور ورکولو آنلاين سيستم پراختيا او تطبيق؛ | د ولسواليو شمېر چې سيستم پکې فعال او تطبيق شوی دی | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.14 | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولايتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شويو راپورونو شمېر | 4 | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.15 | د تودو سيمو په اوو ولايتونو (قندهار، لغمان، ننګرهار، نيمروز، فراه، هلمند او کنړ) | د پرمختګ سلنه | ٪100 | ٪100 | ٪100 | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | کې د شپږم ټولګي د زده کوونکو د رياضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه؛ | | | | | | | | | | |
| 3.16 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنيني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د ورتیا ارزونه او تجربوي تطبيق؛ | د ترسره شویو کړنو سلنه | ۱۰۰٪ | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه کسان ندي راغلي ترڅو تجربوي تطبيق ترسره کړي |
| 3.17 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنيني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفيت لوړونه؛ | د تطبیق شویو روزنیزو پروګرامونو سلنه | ۱۰۰٪ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | له مرکز څخه ټيم نده راغلی ترڅو کارکوونکو ته روزنه ورکړي |
| | ۴. سرچيني او اداره | | | | | | | | | | |
| 4.1 | د پوهنې وزارت د داخلي عوایدو په راټولولو کې زیات والی؛ | راټول شوي عواید | 1 | ۱ | ٪۱۰۰ | √ | | | | | |
| 4.2 | د بودیجې د ترتيب او لګښتونو د تعقیب سیستم (BPET) پراختیا او نوي کول؛ | د رامنځته شوي سيستم د پرمختګ سلنه | ٪100 | ۱۰۰٪ | ٪100 | √ | | | | | |
| 4.3 | د مالیې وزارت په موافقه د هېواد په ۱۱ ولایتونو کې د افمیس سیستم ته پراختیا ورکول؛ | د ولایت پر بنسټ د پرمختګ سلنه | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 4.4 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛ | د ولایتونو په کچه د روزل شویو کارکوونکو شمیر | 5 | ۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د یادو کسانو عامه پوهاوی زیات شویده | |
| 4.5 | د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د ستراتیژۍ طرحې جوړول؛ | د پرمختګ سلنه | ٪100 | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 4.6 | د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بربښنايي کول؛ | د پرمختګ سلنه | ٪100 | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 4.7 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | 10 | ۱۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 4.8 | د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځايونو | د سجل شویو ودانیو شمېر | 10 | ۱۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او | د ښوونيز ودانيو د احاطوي | 5 | ۹ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | احاطو سجل کول؛ | سجل شویو دیوالونو شمېر | | | | | | | | | |
| | | د ترمیم شویو سجل شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 5 | ۲٦ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| ۴,۹ | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛ | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | 10 | ۱٦ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د ثبت شویو سجلو شمېر | 19 | ۲۲ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 4.10 | د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراتړلو او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛ | د کتل شویو قضیو شمېر | 14 | ۱۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د ثبت شویو غصبي او دعوایي اسنادو او دوسیو شمېر | 55 | ۴۵ | ۸۱٪ | | √ | | | | |
| ۵. پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، پلان، مخابره او نور) | | | | | | | | | | | |
| 5.1 | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | 1 | 1 | ٪100 | √ | | | | | |
| 5.2 | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او وېش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د وېشل شویو مجلو شمېر | 900 | ۳۲۵ | ۳٦٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بیندیش د وېشل شویو مجلو شمېر | 900 | ۲۸۰ | ۳۱٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | 1800 | ۱۰۱۰ | ۵٦٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د وېشل شوي کلیزې شمېر | 45 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | یاد فعالیت د کلیزې دنشتون له امله نده ترسره شوی |
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | 180 | ۳۱ | ٪۱۷ | | √ | | | | |
| 5.3 | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو | د ولایتونو له پاره د چاپ | 45 | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد کتابونه د پوهنې وزارت څخه |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | چاپ؛ | شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | | | | | | | | | نده رالیږل شوي |
| 5.4 | د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د وېشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛ | د کتل شویو ولایتونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 5.5 | د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او وېش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 3,400 | ۵۳۵ | ٪16 | | √ | | | | |
| 5.6 | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو وېش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 1,409 | ۴۷۶۵ | ٪۱۰۰ | √ | | | | زده کوونکي په کتابونو ته لاسرسی پیداکړی | |
| 5.7 | په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پراوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | 1 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | د امکاناتو دنشتون له امله یاد فعالیت نده ترسره شوی |
| 5.8 | د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | 5 | ٦ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | د مرکز څخه روزونکي ندي راغلي. |
| 5.9 | د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | د پلان شویو سفرونو شمېر | 2 | ۲ | ٪۱۰۰ | √ | | | | | |
| | **دویمه برخه: انډولیز لاسرسی** | | | | | | | | | | |
| | ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | |
| 1.1 | د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 1 | ٪100 | √ | | | | د یادي څارنې په ترڅ کې ځینې نیمګړتیاوې په ګوته او لازمې سپارښتنې ورته وشوې. | |
| 1.2 | د ولایتونو په کچه د ټرل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛ | د پرانستل شوو ښووونځیو شمېر | 52 | ۴۲ | ۸۱٪ | | √ | | | | |
| 1.3 | د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | په ولایتی کچه د ایجاد شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | ۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | ۱۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | زده کوونکي په دلابراتوار د موادو څخه برخمن او تجربې په ترسره کړې | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د تجهیز شوو کمپیوترلب شمېر | 1 | ١ | ١٠٠٪ | √ | | | | زده کوونکي به په عملي ډول خپل درسونه زده کړي | |
| 1.4 | په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشمول شمېر | 23262 | ١٨٢٧٨ | ٧٩٪ | | √ | | | | |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشمول شمېر | 6567 | ٧٢٣٥ | ١٠٠٪ | √ | | | | دتعلیم له لوی نعمت څخه به برخمن شي | |
| 1.5 | د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښوونځیو شمېر | 8 | ١٠ | ١٠٠٪ | √ | | | | یاد زده کوونکي به دتعلیم له لوی نعمت څخه برخمن شي | |
| 1.6 | په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانی همغږی پر بنسټ د منځنې دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لیسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول؛ | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 2 | ٧ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | 1 | ٠ | ٪0 | | | √ | | | |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو مختلط ښوونځیو شمېر | 1 | ٥ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 2 | ٣ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | 1 | ٠ | ٪0 | | | √ | | | |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو مختلط ښوونځیو شمېر | 2 | ٠ | ٪0 | | | √ | | | |
| 1.7 | جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛ | د تجزیه شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | 1 | ٠ | ٪0 | | | √ | | | چا غوښتنه نده کړې |
| | | د هغودولتي ښوونځیو شمېر جې نوم یې بدل شوی | 2 | ٢ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| | | د هغو خصوصي ښوونځیو | 2 | ٠ | ٪0 | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | شمېر چې نوم یې بدل شوی | | | | | | | | | |
| | | د مدغم شوو ښوونځیو شمېر | 1 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | |
| | | د هغو ښوونځیو شمېر چې جنیست یې بدلون موندلی | 1 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | |
| | | د دولتي لیردول شوو ښوونځیو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.8 | د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛ | د همغږه شوو ساختماني پروژو شمېر | 2 | ۲ | ٪۱۰۰ | √ | | | | | |
| 1.9 | له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تشبیتول؛ | ولایتونو ته د راستنیدونکو غوښتونکو شمېر | 400 | ٦۴ | ٪۱٦ | | √ | | | | |
| | | په کابل ښار کې دمجاهدینو متقاضیانو شمېر | 150 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | چا مراجعه نده کړې |
| | | په ولایاتو کې د مجاهدینو متقاضیانو شمېر | 700 | ۲۱۵۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | مجاهدین به د عصري علم څخه برخمن شي | |
| 1.10 | د مرستندویه موسسو په همکاری د هیواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛ | د تسریعي زده کړو د ایجاد شوو ټولګیو شمېر | 20 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | تر امر ثاني بند دي |
| | | د سیمه ایزو ده کړو د ایجاد شوو ټولګیو شمېر | 100 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | |
| 1.11 | د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛ | د ترافیک او اطفائیه ایجاد شوو ټیمونو شمېر | 2 | ۱۷ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د څارندوی ایجاد شوو ټیمونو شمېر | 2 | ۱۷ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.12 | د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛ | د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د دایر شوو محفلونو شمیر | 1 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | د نړیوالې ورځې لمانځل بند دي |
| | | د بروشرونو او اعلاناتو د چاپ او خپرولو له لارې د عامه پوهاوي پروګرامونو شمیر. | 4 | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د صوتي او تصويري کليپونو د خپرولو له لارې د عامه پوهاوي د پروګرامونو شمير | 1 | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د جوماتونو او تکيه خانو له لارې د عامه پوهاوي د پروګرامونو شمير | 120 | ۱۲۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.13 | راستنيدونکو او داخلي بې ځايه شويو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمينې برابرول؛ | د راستنيدونکو سواد زده کړو زده کوونکو شمير | 150 | ۱۵۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.14 | د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛ | د جذب شوو سواد زده کړو زده کوونکو شمېر | 2,450 | ۷۱۸۰ | ٪100 | √ | | | | د تعليم له لوی نعمت څخه به برخمن شي | |
| 1.15 | د ملا امامانو او کوچيانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛ | د سواد زده کړې په کورسونو کې د ملا امامانو لخوا د جذب شوو کسانو شمېر | 600 | ۹۲۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د تعليم له لوی نعمت څخه به برخمن شي | |
| | | د سواد زده کړې په کورسونو کې د جذب شوو کوچيانو شمېر | 200 | ۴۷ | ۲۴٪ | | √ | | | | |
| 1.16 | د هېواد په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛ | د بيرته راستنيدونکو له پاره د سواد زده کړې د کورسونو شمېر | 6 | ۰ | ٪0 | | | √ | | | مراجعه ندی شوی. |
